# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم*

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|


بســــــــــــــمل
۱۸/۰۹/۱۰

## په جرمني کې دبايرن مېشتو افغانانو دکولتوري ټولنې اعلاميه

عـزيـزانـو !

نن په جرمني کې د جمعې مباره که ورځ چې د معمول له مخې دکار وروستۍ مانا له غرمې څخه وروسته د هوساينې ورځ ده خو موږ د آرامي په ځاى دا اړينه وبلله چې د خپلوکړېدلو هېوادوالو په درد او غم ځانونه شريک وګنو ځکه خو مو نن د مازديګر په ځلوروبجو دجرمني په بايرن آيالت کې دجمعې په دې مباره که ورځ خپله مياشتنۍ غونډه وکړه په دې غونډه کې ټول ګډونوال په دې باندې سلاشول چې دولسي جرګې ټاکنې غير ضروري اوله فرېب څخه ډکې وبولي، موږ بايرن مېشتي افغانان که هرڅومره له خپل هېوادګران افغانستان څخه په ډېرلرې واټن کې اوسووخوبياهم هره لحظه له خپل هېواداوولس سره ځان په غم اودردکې ګڼ احساسوو، ځکه خو د سباورځې دا دروغجنې ټاکنې له سره مردودې ، شرموونکې اوتپلې بولونو

اى ګرانو هېوادوالو!

موږ چې له تاسوڅخه په دومره لرې واټن کې په تاسوباندې داظالمانه ربړې او درغلۍ احساسوو، دا تاسې خو هم بايد له نږدې څخه د غم او درد يو څه احساس وکړئ مانا دا چې دپرديوټولټاکنوته سبا مه ورځئ .

په جرمني کې دبايرن مېشتوافغانانو کولتوري ټولنه